مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری
۲۰۲۶/۰۸/۲۹

# طبیعي بهیر؛

# له تدریجي اصلاحاتو تر هر اړخیز پرمختګ پورې

ټولنې تل د بدلون او پرمختګ په حال کې دي. هېڅ ټولنه په یوه ټاکلې حالت کې د تل لپاره نه پاتې کېږي. اقتصادي شرایط، د تولید وسایل او د تولید طرز، د خلکو د ژوند اړتیاوې، علم او پوهه، کلتور، دودونه، سیاسي جوړښتونه او د انسانانو ترمنځ اړیکي په دوامداره توګه د ټولنیز تکامل د عیني قوانینو له مخې بدلېږي. له همدې امله، که موږ غواړو د یوې ټولنې د پرمختګ او بدلون په اړه جدي او علمي فکر وکړو، باید لومړی د ټولنیز تکامل عمومي او ځانګړي قوانین وپېژنو او د ټولنیز بدلون په بهیر کې یې په پام کې ونیسو.
د ټولنیز ژوند بدلون تصادفي او بې قاعدې بهیر نه دی. هره ټولنه د خپلو عیني شرایطو، د تولید د کچې، اقتصادي اړیکو، علمي او تخنیکي پرمختګ او د خلکو د اړتیاوو له مخې د پرمختګ ځانګړی مسیر وهي. البته، د ټولنو ترمنځ ژور توپیرونه شته او هره ټولنه خپلې تاریخي، جغرافیایي او فرهنګي ځانګړتیاوې لري؛ خو له دې توپیرونو سره سره، په ټولنیز تکامل کې ځینې عمومي اصول هم شته چې له هغو څخه سترګې پټول کولای شي د ټولنیز بدلون بهیر له ستونزو، ټکرونو او ناکامیو سره مخ کړي.

**اقتصادي بنسټ او ټولنیز بدلون**

د ټولنې د هر اړخیز پرمختګ او بدلون په بحث کې د اقتصادي بنسټ، یا ټولنیزې زیربنا، مسئله ځانګړی اهمیت لري. انسانان د ژوند د دوام او اړتیاوو د پوره کولو لپاره تولید کوي، کار کوي او له یو بل سره د تولید، وېش، تبادلې او مصرف په بهیرونو کې اقتصادي اړیکې جوړوي. د تولید د وسایلو پرمختګ، د کار د ټولنیز وېش پراختیا، د تولید د کچې لوړوالی او په ټوله کې د اقتصادي اړیکو بدلون، په تدریج سره د ټولنیز ژوند پر نورو برخو هم اغېز کوي. حکومت، حقوقي جوړښتونه، کلتور، دودونه، ټولنیز ارزښتونه او نورې روبنایي پدیدې له اقتصادي او ټولنیزو شرایطو څخه جلا نه دي. کله چې د ټولنې اقتصادي بنسټونه بدلېږي، د خلکو د ژوند اړتیاوې، اړیکې او ټولنیز مناسبات هم بدلېږي؛ له دې سره په تدریج د سیاسي، حقوقي، فرهنګي او نورو روبنایي جوړښتونو د بدلون اړتیا او زمینه هم رامنځته کېږي.
البته، د اقتصادي بنسټ او روبنا اړیکه یو اړخیزه او میخانیکي اړیکه نه ده. روبنایي پدیدې هم بېرته پر اقتصادي ژوند، ټولنیزو اړیکو او د بدلون پر بهیر اغېز کوي. خو د ټولنې د اوږدمهاله تحول په درک کې د اقتصادي بنسټ او د تولید د پراختیا اساسي رول له پامه نه شي غورځول کېدای.
له همدې امله، که زموږ هدف د ټولنې دوامدار او ژور بدلون وي، باید یوازې د روبنایي پدیدو پر ظاهري بڼه تمرکز ونه کړو. د اقتصادي بنسټ د پیاوړتیا، د تولید د زیاتوالي، د کار د فرصتونو د رامنځته کولو، د علم او تخنیک د ودې، د انساني پانګې د پیاوړتیا او د خلکو د اقتصادي ژوند د ښه کېدو لپاره باید بنسټیز او دوامدار کار وشي.
**ولې تحمیلي او ناوتریخجن بدلون مطلوبه پایله نه لري؟**
کله ناکله داسې تصور کېږي چې د ټولنې د ژر بدلون لپاره باید موجود سیاسي، فرهنګي او ټولنیز جوړښتونه په زور مات او پر ځای یې نوي جوړښتونه راوستل شي. د تاریخ په اوږدو کې داسې هڅې ډېرې شوې دي. خو ستونزه دا ده چې د ټولنې ژورې اړیکې او جوړښتونه یوازې په سیاسي فرمان، زور او یا ناڅاپي انقلاب سره په دوامدار ډول نه بدلېږي.
که د یوې ټولنې اقتصادي، علمي، فرهنګي او ټولنیز بنسټ د نوي جوړښت د منلو لپاره لازم شرایط ونه لري، یوازې په زور د ظاهري جوړښتونو بدلول کولای شي ټولنه له نوو او لا پېچلو ستونزو سره مخ کړي. کله چې د تحمیلي بدلون او د ټولنې د واقعي ظرفیت ترمنځ لوی واټن موجود وي، پایله یې کېدای شي بې ثباتي، مقاومت، ناوتریخوالی، اقتصادي ورانی او د خلکو د ژوند خرابېدل وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جګړه او تاوتریخوالی په ځانګړې توګه د ټولنیز پرمختګ لپاره درونډ قیمت لري. جګړه د تولید بنسټونه ویجاړوي، انساني او مالي منابع له منځه وړي، د خلکو ترمنځ بې باوري او وېش زیاتوي او د پرمختګ پر ځای د بقا مسئله تر ټولو مهمه ګرځوي. هغه ټولنه چې باید ښوونځي، روغتونونه، فابریکې، کرنیزې او صنعتي بنسټونه، پوهنتونونه او نورې زیربناوې جوړې کړي، د جګړې په شرایطو کې خپل امکانات د ورانی، دفاع او بقا لپاره مصرفوي.
له همدې امله، د ټولنیز بدلون هدف باید د خلکو د ژوند ښه کول، د ټولنې د تولیدي ځواک پیاوړتیا او د انساني ظرفیتونو پراخول وي؛ نه دا چې د بدلون په نوم د خلکو ژوند لا سخت، ناامنه او له جګړو سره مخ شي.

**د تدریجي اصلاحاتو فلسفه**

د دې پر ځای چې د ټولنې د بدلون لپاره ټل د چټک او تحمیلي بدلون په لټه کې شو، باید د پرلهپسي اصلاحاتو، دوامدار کار او د ټولنیز تکامل د تسلسل فرهنګ پیاوړی کړو.
تدریجي بدلون په دې معنا نه دی چې ټولنه باید له خپلو ستونزو سره روغه جوړه وکړي او د اصلاح هڅه ونه شي. برعکس، تدریجي اصلاحات دا معنا لري چې هره ستونزه باید د هغې له ریښو، شرایطو، امکاناتو او ټولنیزو پایلو سره په اړیکه کې وڅېړل شي. هغه اصلاحات باید عملي شي چې د ټولنې د واقعي ظرفیت له مخې د دوام امکان ولري، د خلکو د اقناع او ملاتړ زمینه ورته برابره وي او د راتلونکو اصلاحاتو لپاره لا پیاوړی بنسټ جوړ کړي.
په دې لاره کې هر پرمختګ ارزښت لري: د زدهکړې د کچې لوړول، د تولید پراخول، د کرنې او صنعت عصري کول، د کاري فرصتونو زیاتول، د قانون حاکمیت پیاوړی کول، د ادارو اصلاح، د خلکو د پوهاوي لوړول، د ښځو او نارینه وو د اقتصادي او ټولنیز مشارکت پراخول، د علم او تخنیک وده او د انساني ظرفیتونو پیاوړتیا. دا ټول هغه عناصر دي چې په ګډه د ټولنې د دوامدار بدلون بنسټ جوړوي.
د پر له پسي اصلاحاتو موخه باید دا وي چې هره نوې مرحله د تېرې مرحلې پر لاسته راوړنو ولاړه وي، نه دا چې هر ځل ټولنیز بهیر له صفر څخه پیل شي.

**د بدلون لپاره حوصله او تسلسل**

ټولنیز پرمختګ یوه اوږده او پېچلې پروسه ده چې زغم، حوصله او دوام غواړي. ځیني بدلونونه په څو کلونو کې څرګندېږي، خو ځیني نور نسلونه وخت غواړي. که موږ د هرې ستونزې د فوري او انقلابي حل له لارې د پای ته رسولو هڅه وکړو، ښايي د ټولنیز تکامل له عیني بهیر او واقعي شرایطو سره په ټکر کې شو.
ټولنیز پرمختګ باید د یوې اوږدې تاریخي پروسې په توګه وکتل شي. یو نسل بنسټ ږدي، بل نسل هغه پیاوړی کوي او راتلونکی نسل یې لا بشپړوي. په دې معنا، د ټولنې اصلاح باید د یوه نسل شخصي پروژه نه، بلکې د نسلونو پرلهپسي او ګډ عمل وي.
موږ باید هڅه وکړو چې د ټولنیز تکامل او بدلون د عیني بهیر تسلسل ونه شلېږي او جګړې، تاوتریخوالی، سیاسي بېثباتي او ورانوونکي ټکرونه د ټولنې د پرمختګ مخه ونه نیسي. د یوه سالم بدلون لپاره یوازې د بدلون غوښتنه کافي نه ده؛ د بدلون د دوام لپاره مناسب شرایط، بنسټونه او ټولنیز توافق هم اړین دي.
د دې لیدلوري له مخې، د ټولنې د بدلون لپاره تر ټولو مهمه پوښتنه دا نه ده چې: **«څنګه کولای شو هر څه په یوه شېبه کې بدل کړو؟»** بلکې دا ده چې: **«څنګه داسې بنسټونه جوړ کړو چې ټولنه هر کال د تېر کال په پرتله لږه ښه شي او راتلونکی نسل له اوسني نسل څخه په ښه وضعیت کې ژوند وکړي؟»**
**د ټولنې بدلون؛ له خلکو سره، نه د خلکو پر وړاندې**
د ټولنیز بدلون په هره پروسه کې د خلکو رول بنسټیز دی. هېڅ دوامدار بدلون له خلکو، د هغوی له اړتیاوو، تجربو، پوهې او رضایت څخه په جلا توګه نه شي رامنځته کېدای. هغه بدلون چې پر خلکو تحمیل شي، ښايي په لنډ مهال کې ځیني ظاهري پایلې ولري؛ خو که له ټولنیز واقعیت، د خلکو له اړتیاوو او د هغوی له مشارکت سره همغږی نه وي، د دوام له ستونزې سره مخ کېږي.
له همدې امله، د اصلاحاتو او بدلون لپاره باید د خلکو د پوهاوي، اقناع او مشارکت زمینه پراخه شي. ټولنیز بدلون هغه وخت ژور او دوامدار کېږي چې خلک یې یوازې نندارچیان نه، بلکې فعال ګډونوال وي.

**پایله**

د ټولنې هر اړخیز او دوامدار پرمختګ هغه وخت شونی دی چې د ټولنیز تکامل عیني شرایط او قوانین په پام کې ونیول شي. اقتصادي بنسټونه، د تولید وده، علم او تخنیک، د خلکو د ژوند ښه والی او د ټولنیزو اړیکو تحول د دې بهیر مهم عناصر دي. د اقتصادي او ټولنیزو شرایطو له بدلون سره، د حکومت، قانون، کلتور، دودونو او نورو روبنايي پدیدو د بدلون اړتیا او زمینه هم په تدریج سره رامنځته کېږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ

له همدې امله، د ټولنې د اصلاح لپاره باید د زور، جګړې، بهرنۍ مداخلې او ویجاړونکو ټکرونو پر ځای د علم، تولید، تعلیم، اقتصادي ودې، اداري اصلاح، د قانون حاکمیت، د خلکو مشارکت او تدریجي بدلون پر لاره ټینګار وشي.
دا په دې معنا نه ده چې هر بدلون باید ورو وي او یا هر موجود وضعیت باید ومنل شي. اصلي خبره دا ده چې **اصلاح باید د ټولنې له واقعي شرایطو سره متناسبه، د خلکو په مشارکت ولاړه او د دوام وړ وي .** ژور بدلون هغه وخت ارزښت لري چې د انسانانو ژوند ښه کړي، د ټولنې د تولیدي او انساني ظرفیتونو د پراختیا سبب شي او د راتلونکو پرمختګونو لپاره لا پیاوړې بنسټ کېږدي.
په پای کې، اصلي خبره دا ده: **ټولنیز بدلون باید له ټولنې سره یو ځای، د ټولنې د عیني اړتیاوو او امکاناتو پر بنسټ، او نه د ټولنې پر وړاندې ترسره شي.**
که موږ د اصلاحاتو لپاره حوصله، د پرمختګ لپاره تسلسل، د واقعي شرایطو د درک لپاره علمي لید او د خلکو د مشارکت لپاره پراخه زمینه ولرو، نو ټولنه کولای شي په تدریج سره له یوه حالت څخه بل، له کمزورۍ څخه ځواکمنتیا او له وروسته پاتې والي څخه پرمختګ ته حرکت وکړي.
دا ښايي د یوه ناڅاپي او تحمیلي بدلون په پرتله ورو لاره وي؛ خو د دوامدار، انساني، باثباته او واقعي پرمختګ لپاره تر ټولو باوري پانګه همدا **تسلسل، اصلاح او تدریجي تکامل** دی.

نور محمد غفوري
27.08.2026


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ